پوهنمل حاجی محمد نوزادی

دطالبانو سره د ډنمارکیانو

ډیالوګ

د Jyllands-posten پنامه یوی انترنیشنل سهارنی ډنمارکی ژبی ورځپانی په ۱٦ - ۲ - ۲۰۰۹ نیټه تر لوړسرلیک لاندی یوه خورا اوږده لیکنه خپره کړیده چی لومړی به یی دلنډیز پښتو ژباړی ته د لوستونکو پام راوګرځوم او وروسته به څو اړیني کرښی چی پدی اړوند دیادولو وړ ګڼم , وړاندی کړم :

( په افغانستان کی میشت دنمارکی ځواکونه دطالبانو او دهغوی دخواخوږو مینه والو سره دخبرو اتر په موخه راشه درشه او ناسته ولاړه کوی . دی ډول ډیالوګ د دنمارک د دفاعی چارو دمشرتابه د تینګار سره سره چی ګویا ډنمارکیان دطالبانو سره په خبرو اترو کی ونډه نلری , دوام موندلی دی . په افغانستان کی د ډنمارکی ځواکونو راتلونکی مشر Bjarne Holgaard چی تازه له افغانستانه وطن ته راغلی دی , د طالبانوسره داړیکو درلودلو له جریان نه پرده پرته کوی او وایی : ,, اجازه راکړی څرګنده کړم چی موږ په ځانګړو سیمه ایزومشورتی غونډو کی چی طالبانو هم استازیتوب پکښی درلود , ګډون کړی او پدی توګه مو د دوی سره غیر مسقیم ډیالوګ پرمخ بیولی دی . دطالبانو ګډون پدی خاطر وو چی دسیمی خلګوته زموږ وړاندیزونه واوری او وینی چی په څه ډول موږ او دوی دیو بل سره ګډ کار او مرستی کولای شو . کله خو داسی پیښی هم رامنځته شویدی چی زموږ سره په ګډ کار کی مرسته کونکی سیمه ایز خلګ ترټل شوی او ان وژل شویدی . که موږ ډنمارکیان په رښتیا غواړو چی افغانستان ته دی سوله راشی نو بیله دی نه چی دطالبانو سره پر ډیالوګ باندی زور واچوو او خبری اتری مخته بوزو , بله هیڅ لاره نلرو . داځکه چی موږ دغه دښمن دجنګ دلاری ماتولای نشو ,,



ډیالوګ د سولې

بام ته لومړی زینه ده

د ډنمارک په چپ ګوند ( # ) کی د دفاعی چارو مسئول ten NonboKars وایی چی دنرمو ( معتدلو ) طالبانو سره خبری اتری او دیالوګ پرځای کار دی او باید په کار واچول شی , مګر د ډنمارک اولسی ګوند ( # ) بیا دهر ډول طالبانو سره خبری اتری یو احمقانه کار ګڼی . ددی ګوند دخارجی چارو مسئول Espersen Soren په تینګارسره وایی : ,, داماته دتحمل او زغم وړنده چی طالبان دی یوه ورځ زموږ دافسرانو سره دسولې په خبرو کی ارام ناست وی او بله ورځ دی بیا وسله رااخلي او زموږ سربازان را وژني . ایا داکیدلای شوه چی د دویم نړیوال جنګ پرمهال دمعتدلو نازیانو سره دیالوګ ترسره شی ؟ ,,

د ډنمارک ځواکونه په ۲۰۰۲ کال وروسته له هغه نه چی امریکایی ځواکونو کابل ونیوې ,

افغانستان ته ولاړل او په ۲۰۰۶ کال ددی هیواد په ناارام ولایت هلمند کی د برتانیوی ځواکونو تر قوماندی لاندی ځای پرځای شول چی داګړی یی ټولیز شمیر ۷۳۸ تنو ته رسیږی . له دی ډلې نه ٦٥۰ تنه په هلمند , ٥۸ تنه په کندهار او څو دګوتو په شمیر تنه یی هم په چخچران او کابل کی میشت دی . تراوسه یی ټول ۲۲ تنو هلته خپل ژوند له لاسه ورکړی چی ۱۲ تنه یی یوازی په ۲۰۰۸ کال کی مړه سوی دی . له دی نه پرته ۳۹ تنه هم زخمیان لری . په ۲۰۰۹ کال کی دجنګ د لګښتونو دپاره ۷٤٥ میلیون دنمارکی کرونه ( یو ډالر نژدی ٦ کرونه . ژ. ) په پام کی نیول شویدی . همدارنګه به ٤۰۰ میلیونه کرونه دبیارغونې په موخه او ٥۰ میلیون کرونه پر بشری اړینو مرستو باندی ولګیږی ) .

دا خو هغه څه وو چی په نوموړی ډنمارکی ورځپاڼی کی د راغلی متن دلنډیز پښتو بڼه ده .

دیادونې وړ ده چی دا یوازی د ډنمارکی جنګی ګروپ مشر ښاغلی Bjarne Holgaard ندی چی ویلې یی دی ,, . . . . . موږ دغه دښمن د جنګ دلاری ماتولای نشو ،، بلکه د ائتلاف د لویو پیاوړو غړو جنرالانو هم په وارو وارو داخبره منلې او ټینګار یی پری کړی چی دجنګ په ډګر کی دطالبانو ماتول ناشونی دی . دا به هم ومنو چی طالبانو ته هم د دومره سترو قواوو نیغ په نیغه دړی وړی کول اسانه او ساده کارندی . بیا نوددی معادلې یوازنۍ نتیجه د وینو په رود کی دافغان اولس لمبول , د زرګونو ښونځیو , کلینیکونو , لارو , پلونو او نورو ټولګټو تاسیساتو ورانول . . . . دی . لدی نه پرته د ائتلافی هیوادونو څخه همدارنګه د تنکیو ځوانانو وژل او دجنګ په اور کی د زرګونو میلیاردو ډالرو سوزول هم هغه څه دی چی داړوندو هیوادونو وګړی تری سترګی پټولای نشی .

ایا اوس نو هغه وخت ندی رارسیدلې څو پر دی سوال باندی غور وشی چی دلوړی غملړلې پایلې څخه ولې دخلاصون لاری چاری نه لټولې کیږی او پر سوله ایزو لارو ولې کوټلې ګامونه نه اخیسل کیږی ؟ زما په اند دا به پدی خاطر وی چی ښایی دلته د نظامیانو او سیاستوالو دنظرونو تر منځ دتوپیر شتوالې سیوری اچولې وی . ځمکه هغه سوزی چی اور پری بل وی . نظامیان چی دمخالفو ګروپونو دبدلیدونکو جنګی تاکتیکونو اغیز په سترګو وینی او مخنیوی یی ورته ناشونې ښکاری , نو په ډاګه نارې وهی چی موږ دغه دښمن دجنګ دلاری ماتولای نشو . د ماتولو دناشونتیا بنسټیز علت یی زه داګڼم چی د ځمکنی قواوو په کارولو سره دائتلاف نظامیان غواړی یا نه غواړی باید دخپلو قواوو سترو تلفاتو ته غاړه کښیږدی چی داکاریی په اړوندو هیوادونو کی حکومتونو ته ستونزی پیداکوی . دهوایي قوتونو کارول بیا برسیره پردی چی موثر ندی , دبی شمیره ملکی تلفاتو باعث ګرځی , دسیمه ایزو خلګو نارضایتونه راپاروی او پدی توګه طالبانو ته دجلب او جذب په زړه پوری مناسب شرایط پلاس ورکوی. پدی توګه هغه حالت منځته راځی لکه څه موده وړاندی چی یوه ډنمارکی جنرال ویلې وه : ,, دیوه طالب وژنه د دوو نورو زیږول دی ،، .

را به شو د کړکیچ بل اړخ ته . دنژدی ټولو څیړونکو او شننکو په اند د بن په کنفرانس کی یوه له سترو تیروتنو څخه همدا وه چی طالبان دخپل ټول پوتنشیال سره سره دیوه اړین اړخ په توګه له پامه وغورځول شول . اوس دا تیروتنه هم ملګرو ملتونو او هم په کړکیچ کی شاملو سترو قدرتونو منلې ده . لدی کبله به پرځای وی څو د دری ژبی دامتل په پام کی ونیسو چی وایی : دیر رسیدن بهتر از نرسیدن , او داسی به یی وګڼو چی ماهۍ هر وخت له اوبو را وباسی تازه دی . طالبانو ته باید ددغه وطن دبل هروګړې او سیاسی ډلې پشان د روا حقونو د لرونکو په توګه وکتل شی . داګړی خو دوی خپل دا استحقاق په نظامی ډګر کی هم د ٤۰ پرمختللو هیوادونو د ۷۰ زره کسیز تر غاښو پوری په نوی تخنیک سره سنبال پوځ په وړاندی په ثبوت رسولې دی .

په افغانستان کی دټولو جنګی ډلولاسونه تر څنګلو پوری د بیګناه وطنوالو په وینو سره دی او قدم پقدم یی لویی تیروتنې کړیدی . پدی قطارکی دطالبانو فرق له نورو څخه دادی چی نورو ډلو دشخصی ګټو دترلاسه کولو پخاطر د وینو رودونه بهیولې دی او طالبانو که داکار کړی وی نو دخپلې عقیدی پخاطر یی کړیدی نه دخپل

دنیوی حرص اوناروا شخصی شتمنیو دلاسته راوړلو پخاطر . هیڅا تر اوسه پوری پر هیڅ یوه طالب قوماندان باندی د بلډینګ درلودلو , دڅا دځمکو دلاندی کولو , اخلاقی فساد اویا دنورو تنظیمی قوماندانانو پشان د دولت د شتمنیو دلوټولو تور او پړه نده لګولې . ټول تنظیونه چی د ۱۹۹۲ کال وروسته یی په دولت کی په یوه یا بل شکل غوښینه برخه درلوده , بنیادګران وه , خو دطالبانو څخه یی توپیر داوو چی دوی خپله بنسټپاله عقیده تر خپلو شخصی ګټو قربانوله او طالبانو بیا بل هرڅه ترخپلې عقیدی جار کړل . ددوی له همدغی عقیدوی سرښندنې او افغانی میلمه پالنې نه القاعدی پراخه ګټه پورته کړه چی ناوړو اغیزو یی نړیوال دافغانانو پرضد راوپارول اوخپل دغریبی ټغر یی ورته سره تبې کړه .

څو ورځی وړاندی د هلمند والی محترم ګلاب منګل دیوه هیات په مشری ډنمارک ته په کاری سفر راغلی وو . دی چی یو هوښیار , مؤدب او ترلویه بریده په کار کې بلد سړی ښکاریدې , دیو شمیر دنمارک میشتو افغانانو سره یی په یوه ناسته کی دهلمند په اړه د زړه سواندو خبرو په ترڅ د روانو پیښو ځرنګوالی په ګوته کړ . زما دیوی دیوی پوښتنې په اړوند دده له ځواب نه داسی څرګنده شوه چی د هلمند د دټولو اولسوالیو له ډلې نه پنځه اولسوالۍ دمودو راهیسی د دولت له ولکې وتلې , دځینو زیاته برخه او دځینو کمه برخه د دولت تر ولکې لاندی اودځینو حالات بیا که څه هم په رسمی توګه د دولت په ولکه کی ګڼل کیږی , ډیر ښه ندی . ځینی داسی اولسوالۍ یاسیمې هم شته چی د بدلون په حالت کی وی , ددولت اومخالفانو تر منځ لاس پر لاس کیږی . ان یوه اولسوالې هم دمرکز سره پوخ سړک نلری . کلینیکونه نژدی په ټولو اولسوالیو کی شته اوترټاکلې حده په هغو اولسوالیو کی هم فعال دی چی ددولت په ولکه کی ندی . د ښوونځیو حالت ان ددولت تر ولکی لاندی سیمو کی هم دقناعت وړندی . دنجونو ښوونځۍ د اولسوالیو په کچه صفرته په نژدی حالت کی دی. د راتلونکې په هکله په ټولیز ډول وړاند وینه سخته ورته ښکاریده خو ویل یی چي موږ ترخپله وسه پوری بنده ګی کوښش کوو . دنشه ای توکو په کښت کی دی دپام وړ کمښت هیله من بریښیدی . دا وو دتوربخته هلمند ولایت یو سربیرن غمجن انځور چی محترم والې صاحب یی داحتیاط نه په ډکه نرمه او زړه سوانده ژبه پداسی حال کی وړاندی کړ چی د پسیمیزم تور وزر یی پر ږغ سیوری اچولی وو .

تر هغه ځایه چی دمیډیایی څرګندونونه پایلې اخلو , له بده مرغه په لړ توپیر سره د ټولو جنوبی او جنوب شرقی ولایتونو همدغه یا دی ته ورته پیکه تصویر دی . دبیلګی په توګه دامهال په یادو شوو ولایتونو کی نژدی د پنځه نیم میلیونو ماشومانو پرمخ دښوونځیو دروازی تړلې دی چی که دکابل ولایت تری نه وباسو , نو داشمیر دټول هیواد په کچه د ښوونځیو وړسن ماشومانو نیمه برخه جوړوی . ددغه خواشینونکې انځور په پام کی نیولو سره چی نه یوازی ګلاب منګل بلکه دکرزی اوښاغلې اوباما په ګډون یی هیڅوک دښه والې وړاند وینه هم نشي کولای , بیا به نو څومره دجهالت خبره وی څو د ډنمارک داولسی ګوند چی یوه دتعصب نه ډکه راسیستې ( نژادپاله ) ,افغان ضد او اسلام دښمنه ډله ده , داستازی نظرته غوږ ونیسو چی وایی : ,, . . . . دطاباوسره خبری کول یو حماقت دی ،، . له بده بخته دا ډول راسیستې افغان دښمن ګوندونه دائتلاف په نورو هیوادونو کی هم شتون لری چي نظریات یی پر اړوندو دولتونو باندی د ټاکلې اغیزې درلودونکی دی . برسیره پر دی په افغا نستان کی دننه هم ټاکلی کړۍ شته چی دی ته ورته نظرونه لری . ملې شورا خو نه یوازی داچی دهیواد ملې لوړی ګټې یی اصلا له پامه غورځولې بلکه ډیری غړی یی د ټیکاو دمخنیوۍ په موخه د سیاسی کړکیچ اورته لمن وهی او د دښمن پرژرنده اوبه اړوې .

د بوش اداری ددی دپاره چی په منځې ختیز او افغاتستان کی خپله بی کفایتې پټه کړی , تل یی دطالبانو په وړاندی دبریالیتوب دروغجنې ناری وهلې . لکه څنګه چی ټولو وطنوالو او نړیولو د نیویارک ټایمزسره په مرکه کی واورویدل , دامریکا نوی جمهور رئیس بارک اوباما اخر دی واقعیت ته غاړه کښیښوده اوپه ډاګه یی ومنل چی دامریکا اردو په افغانستان کی دطالبانو دماتولو توان نلری او پکارده د معتدلو طالبانو سره دسولې په

موخه دخبرواترو ور پرانیستل شی . زما په اند ضرور ده دهرډول طالبانو سره بیله قید او شرط نه خبری وشی , دهغوی غوښتني واوریدلي شی او د روغي جوړی په اړوند غیرمنطقی اوبیځایه شرطونه وړاندی نشی . کنه نو همدا اش به وی او همدغه خیرنه کاسه , وطن به د اور په لمبو کی سوزی او دښمنان به یی شاوخوا پری ناځی .

اوس چی دادی سپیني مانۍ هم دافغانستان دجنگ په کټلو کی خپله بیوسي منلي ده نو د وطن ددغه غمجن او ورانونکي حالت په پام کی نیولو سره یوار بیاغواړم پر ټولو دموکراتیکو ډلو ,مترقی ګوندونو , , وطنپالو ځوانانو , مدني ټولنو , ریالیستو فرهنګیانو او فرنګپالو , متنفذو قومی مشرانو , میډیاوالو او په پای کی پر اسلام مینو او وطندوستو طالبانو , داسلامی ګوند جنګیالیو او پرټولوهغو کسانو چی په رښتیا سره یی پروطن زړه سوزی , ږغ وکړم چی د وطن خیر په سوله او ابادئ کی دی , د خدای (ج) او وطن پخاطر ګډو هلو ځلو ته لیڅی راونغاړي , په ګډه سره په وطن دلګیدلي اور لمبی مړی کړی او پدی توګه دائتلاف غړو دولتونو ته په افغانستان کی دلازیات پاتی کیدو بهانه پلاس مه ورکوي .

- په ټوله وطني اوافغانی مینه !

( # ) - د ډنمارک د چپ ګوند نوم دهغی ډلي نه ریښی اخلي چی یو وخت د پارلمان کیڼ پلو ته کښیناستل . د مرام له مخی دایو ښی لاسی ګوند دی چی دلویو پانګوالو دګټو ساتنه کوی . دا ګوند اوس په ډنمارک کی دمحافظه کارانواوځو نورو ورو ګوندونوسره دائتلاف په مرسته دچارو واګی پلاس کی لری .

( ## ) - د ډنمارک اولسی ګوند په واکمن ائتلاف کی شامل یو نژادپاله راسیستي ګوند دی چی دخارجانو او په ځانګړي توګه داسلام د پیروانو سره یی څرګنده دښمني دمرام بنسټیز ټکي دی .